بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

د مولانا سعید افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان




د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغانی » لیکنه

د بیا نشر نیټه : 1 مارچ 2025 میلادي

# اسلام د ادب او د اخلاقو دین دی



څومره چه د اسلام د مقدس دین پر متعلق د نویو علوموډ انکشاف توجه او ښتې، هغو مره دا حقیقت روښانه شوی دی چه اسلام ښه د اداب اود اخلاقو د تربیې دین دی او په دغه مقدس دین کښې د ټولو طبقاتو حقوقو د تامین د پاره محفوظ ساتل شوي دي، او یو تربله د متقابل احترام ساتلو او ښه سلوک د پاره ډیر پاخه او قوي اساسونه لري.

په دغه دین کښې د اقرباو سره د صلې او علاقې باریک رمزونه شته او د دوستانو او آشنایانو سره د مینې په لیاره د ګډو اهدافو منځ ته راوستلو د پاره په کښې قوي راز موجود دی.

اسلام د عمومي اوضاعو او د عامو خلکو سره د ښه ژوند کولو قوي خیال ساتلی دی او د یو مکمل ادبي او اخلاقي ژوند د برابرولو د پاره په کښې پاخه اساسونه شته دي، کوم ادب او اخلاق چه د اسلام په مقدس دین کښې په ټول کم او کیف سره د خلکو د خیر او سعادت د پاره لیدل کیږي، په دی اندازه په بل هیڅ کوم دین کښې په لاس نه راځي .

د پلار او د مور د حقوقو لحاظ ساتل ، د مشرانو احترام ، دلویانو قدر او تعظیم، وړور سره صله او عاطفه ، د ملګرو سره صداقت ، د همسایه ګانو سره ښه سلوک او ګذاره ، د عاجزانو سره مرسته او تعاون، د مصیبت او تکلیف په وخت لاس ورکول ، د خوراک او څښاک نورو حیاتي مسایلو کښې اعتدال ، عمومي حقوقو د تقویې د پاره توجه او دا او داسی نور اداب او اخلاق د اسلام پر مقدس دین کښې هیڅ کله خپل ادبي او اخلاقي اعتبار دلاسه نشي ورکولی .

په اسلام کښې د نفرت ، عداوت ، کينې او حسد تولې ريښې ايستل شوي دي او دين د محبت او همکارۍ د تامينولو د پاره پوره پوره توجه کړې ده .

اسلام د کبر او غرور سره مجادله کړې ده او له دغې لیارې ښځه غواړي چه خلک د وورولۍ او برابرۍ په فضا کې ژوند وکړي.

په اسلام کې د عفوې او ګذشت او د بيا بيا پيوندلو د پاره ليار ښونه او تشويق شوې دي او د دی لیارې ښځه غواړی چې اجتماعي شيرازه بايد قوي وساتله شي .

په اسلام کښې د خبرو او وينا د پاره حدود معلوم شوي دي او د ژبې د اصلاح کولو د پاره پوره توجه شوې.

د اسلام مقدس دين د علم او پوهنې د پاره عمومي توجه اړولې ده او د عقل او دليل د لیارې ښځه غواړي چه خلک خپل ژوند نه ښه استفاده وکړي .

اسلام کوشش کړی دی چه د خلکو مدنی ، اقتصادي ، سياسي ، ثقافتي ، ادبي او اخلاقي ژوند په داسي پايو اتکا و لري چه هغه د انسان اصلي د طبيعت او استعداد سره برابر او د عمومي مصالحو د تامين د پاره مفيد واقع شي .

اسلام د وهم ، وسواس او بی مورده ګمانونو طرفدارنه دئ؛ او د پوره دقت پرليارہ کې غواړي چه حقايق روښانه او د خلکو حياتي مشکلات لرې شي .

اسلام د عفت ، تقوی، پاکی او نظافت طرفدار دی ؛ غواړي چه د خلکو ژوند په ظاهر او باطن کی پاک او سوچه وي.

اسلام د اسراف او تجاوز طرفدار نه دئ ؛ غواړي چه خلک دی بايد په هر څه کښې د اعتدال لحاظ قوي وساتي.

اسلام د غدر او خيانت سره مجادله کړې ده ؛ غواړي چې خلک دی يو تر بله د تکاليف او مشقت موجب ونه ګرځي .

نو په دی اساس که څوک د اسلام مقدس دين تر پوره عميقی مطالعې لاندې را ولي ، د ادب او اخلاقو کامل او مکمل دی. او د هغه ښځه په استفادی سره د ننني علومو په اساس د حقيقي او واقعي ژوند برابرولو ليارہ پوره ارزښت لري.

راځي چه مونږ د اسلام د دين د ادبو او اخلاقو ښځه ځان پوره واقف کړو؛ تر څو وکړی شو د ځان او د خلکو د سعادت په ليارہ کښې ، د ښوځدمتونو مصدر وګرځو.

و من الله التوفيق

سعيد افغاني
کابل ــ د ۱۳۵۵ هجري شمسي ــ کال

ترتيب کوونکي : برهان الدين « سعيدي »

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی